**سیمه ییز مطالعات**

د سیمه ییزو مطالعاتو مجله د ۱۳۸۵ لمریز کال د وري په میاشت کي کله چي د افغانستان د اسلامي جمهوریت د علومو اکاډمي په چوکاټ کي د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز بنسټ کېښود ل شو ، تاسیس شوه.

د سیمه ییزو مطالعاتو مجله د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز د علمي ژورنال او خپروني په توګه ، له هماغه پېله زیاتره د سیمي په کچه د سیاسي ، اقتصادي او فرهنګي اړیکو او بدلونونو په څېړلو او راسپړلو خپلو خپرونو ته دوام ورکړی دی ، د دې ترڅنګ د محمود طرزي د فکري بنسټ د علمي او تحلیلي ناستو راپورونه هم د همدې مجلي د هرې ګڼې په پای کې خپرېږي .

دغه مجله په دریو ژبو ( پښتو ، دري او انګلیسي) باندې خپلو مینه والو ته د علمي اصولو او معیارونو په پام کي نیولو سره د سیمي په کچه علمي او څېړنیزې سیاسي مقالې وړاندې کوي .

دغه مجله د علومو اکاډمي د نورو علمي مجلو ترڅنګ د فصلنامي په بڼه په هرو دریو میاشتو کي یو ځل خپرېږي او د علم او پوهي مینه والو ته وړاندې کیږي .